يعني پورته لاس (ورکوونکی لاس) له ټيټ لاس (غوښتونکي لاس) څخه غوره دی

د عبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دی چې: رسول الله صلى الله عليه وسلم په داسې حال کې چې په منبر ولاړ و، د صدقې، تعفف (يعني له اړتيا پرته د صدقې اخيستلو څخه ډډه کولو) او له خلکو څخه د سوال کولو په اړه يې وفرمايل: « يعني پورته لاس (ورکوونکی لاس) له ټيټ لاس (غوښتونکي لاس) څخه غوره دی، لوړ لاس هغه دی چې صدقه ورکوي، او ټيټ لاس هغه دی چې مرسته غواړي».

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم چې کله په منبر خطبه ورکوله، نو د صدقې ورکولو او له سوال څخه د ځان ساتنې يادونه يې وکړه او بيا يې وفرمايل: لوړ لاس چې ورکړه کوي او صدقه کوي، د ټيټ لاس څخه چې غوښتنه کوي، غوره او د الله تعالى لپاره محبوب دی.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/3599